# څۀ شان دے
# د نورِ مصطفٰے

**13 August 2026**

(For Islamic Brothers)

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان



پۀ 13 اګست، کال 2026ء (بمطابق: 29 صفر شريف، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بيان

# څۀ شان دے د نور مصطفٰے

## (نوې رڼا خوره شوه)

(د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُورانيت او دُنيا ته د تشريف راوړلو د ذِکر بيان)

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---نُور راخور شو، هر طرف ته رڼا رڼا شوه
- ---د نُور خيرات تقسيموونکے
- ---حضرت عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د شعرونو پۀ شکل کښې ميلاد ولوستو
- ---د ميلاد د محفلونو برکتونه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ صَلَاةً صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَمَلَائِکَتُهٗ عَشْرًا فَلْیُکْثِرْ عَبْدٌ اَوْ لِیُقِلَّ

ترجمه: څوک چې پۀ ما باندې يو ځل درود شريف ولولي، الله پاک او د هغۀ فرښتے پۀ هغه بنده باندې 10 کرته درود لېږي، اوس د بنده خوښه ده کم لولي اوکه زيات-[1]

يعني زۀ که يو ځل ووايم: صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد (اے الله پاکه پۀ مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود اولېږې)، د دې يو دوه سيکنډه عمله بدله به ما ته څۀ ميلاوېږي؟ فرمائي: د دې پۀ بدله کښې به الله پاک او د هغۀ فرښتے 10 کرته درود لېږي-

نوټ: د الله پاک پۀ خپلو بندګانو باندې د درود لېږلو مطلب دے: رحمت را نازول او د فرښتو د درود لېږلو مطلب دے: د بخښنې دُعا کول-[2]

---

[1]… الصلاة على النبي لابن عاصم، صفحه:21، حديث:34-

[2]… فتح الباری، کتاب الدعوات، باب صلاة على النبي، جلد:11، صفحه:186، زيرِ حديث:6357 ماخوذاً-

خومره عظیمه صِله ده دا---!! د الله پاک یو رحمت مېلاؤېدل د دواړو جهانو د خېرونو د پاره کافي دے، پهٔ چا باندې چې 10 رحمتونه نازل شي، بیا ورسره د فرښتو 10 کرته دُعاګانې مېلاؤ شي، د هُغه بنده شان به څهٔ وي---؟ او د دې ډېر عظیم اِنعام د موندلو طریقه څهٔ ده؟ یو څو سیکنډه پرې لګې، ولولئ! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد۔

مومنو! پڑھتے نہیں کیوں اپنے آقا پر درود | ہے فرشتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اورېدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ [2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اورېدو نه مخکښې څهٔ ښه ښه نِیَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ◈ پهٔ اَدب به کښېنم ◈ ښه پهٔ توجُّه به بیان اورم ◈ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهیلا نیا اجالا (نوې رڼا خوره شوه)

بُخت نَصَّر کوم چې د خپل وخت ډېر ظالِم او غیر مسلمه بادشاه وو۔ یو ځل هغهٔ خوب

1…قبالۂ بخشش، صفحہ:164۔

2… بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

وليدو، پهٔ کوم چې هغه ډېر وېرېدو، ډېر عجيبه خوب وو- نو هغه لوئي لوئي مُعَبِّرِين (يعنې تعبير بيانوونکي) راجمع کړل، وه يې وئيل: ما يو خوب ليدلے دے، تاسو د دې تعبير بيان کړئ--!!

مُعَبِّرِينو ووئيل: جي--!! خوب بيان کړئ! وه يې وئيل: نا--!! زهٔ به خوب نهٔ وايم- ما څهٔ ليدلي دي، دا به هم تاسو وايئ او تعبير به يې هم بيانوئ، تاسو له درې ورځې مهلت درکولے شي، که تعبير مو بيان کړو نو ټيک، ګنې ستاسو نه به سرونه وهلے شي-

ډېره پرېشاني شوه، اودهٔ شوے بادشاه وو، خوب هغهٔ وليدو، مُعَبِّرِينو ته څهٔ پته ده چې هغه څهٔ ليدلي دي خو بادشاهان خو بيا بادشاهان وي، د هغوئي پهٔ مخکښې څوک د خبرې کولو جرأت کولے شي- مُعَبِّرِين پرېشانه شول چې نن مو خير نشته-

دا خبر د الله پاک نبي حضرت دانيال عَلَيْهِ السَّلَام ته ورسېدو، هغوئي وفرمائيل: زهٔ به د خوب تعبير بيان کړم-

اوس وګورئ چې خوب هُغه څيز دے چې څوک اودهٔ وي، هم هغه يې ويني، که اِنسان د اودهٔ ګس سر ته ناست وي نو بيا ورته هم پته نهٔ لګي چې اودهٔ ګس څهٔ خوب ويني- خو د انبيائے کرامو عليهِمُ السَّلام شان جدا دے، الله پاک دوئي ته صرف د دېوال نه بل اړخ ته نهٔ، د اودو سترګو شا ته --- يعنې د خوب د حالت عِلم هم عطا کوي- سُبْحٰنَ الله!

خير! حضرت دانيال عَلَيْهِ السَّلَام د بُخت نَصَّر دربار ته تشريف راوړلو، وه يې فرمائيل: بادشاه--!! ستا د خوب تعبير به زهٔ بيانووم- وه يې وئيل: تاسو ته شرط معلوم دے؟ خوب به هم تاسو بيانوئ او تعبير به هم تاسو بيانوئ - وه يې فرمائيل: آؤ! آؤ! خوب به هم زهٔ

بیانووم- بادشاه ووئیل: ښه نو ټیک ده- ووایئ چې ما څۀ خوب لیدلے دے؟

وه یـې فرمائیل: تا یوه ډېره غټه مجسمه ولیدله، د کومې ښپې چې پۀ زمکه باندې او سَر یـې اسمان ته رسېدلو، د هغې بره حصه د سرو زرو، خِېټه د سپینو زرو، لاندې حصه د اوسپنې او ښپې د خاورې نه جوړې وې- بیا ناڅاپه د اسمان نه یو لوئې کاڼے راپرېوتو، کوم چې هُغه بُت ریزه ریزه کړو بالکل پۀ نرو ذرو کښې یې داسې ورۀ کړو لکه څنګه چې شګه وي-

بادشاه چې کله خوب واورېدو نو د حېرانتیا نه ودرېدو، د هغۀ سترګې د حېرانتیا نه بقې راوتې وې، وه یـې وئیل: تاسو خوب خو بالکل صحیح بیان کړے دے- اوس د دې تعبیر هم بیان کړئ!

وه یـې فرمائیل: د دې غټې مجسمې نه مُراد خراب مذهبونه، کُفر، شِرک او ظالِم حکومتونه دي، دا [مُجسمه] ډېره غټه وه، د دې مطلب دا دے چې پۀ دُنیا کښې به لا اوس د یوې ډېرې مودې پورې کُفر او شِرک او ظالِمان حکمرانان راځي- هُغه کوم کاڼے چې د اسمان نه راپرېوتو، دا دې طرف ته اِشاره ده چې ډېر زر به الله پاک د عربو پۀ خاوره باندې یو نبي عَلَیْہِ السَّلَام رالیږي ◈ د هغوئې د راتلو سره به د کُفر تیارې ختمې شي ◈ د ظُلم شپه به ختمه شي ◈ باطِل به ختم شي ◈ حق به عروج ته ورسېږي ◈ هغوئې به اَن پړو له عِلم ورکړي ◈ کمزورو له به طاقت ورکړي او ◈ کم تر به د عزت معراج ته ورسوي - (1)

---

1…دلائل النبوة للبیهقی، المقدمة، جلد:1، صفحه:49 51 ملتقطاً خلاصةً-

| | |
|---|---|
| پُرنُور ہے زمانہ صبح شبِ ولادت | پردہ اُٹھا ہے کس کا صبح شبِ ولادت |
| دِل جگمگا رہے ہیں قسمت چمک اُٹھی ہے | پھیلا نیا اُجالا صبح شبِ ولادت |
| خطبہ ہوا زمیں پڑا ، سکّہ پرا فلک پر | پایا جہاں نے آقا، صبحِ شبِ ولادت |
| عالَم کے دفتروں میں ترمیم ہو رہی ہے | بدلا ہے رنگِ دُنیا صبحِ شبِ ولادت |
| ظلمت کے سب رجسٹر حرفِ غلط ہوئے ہیں | کاٹا گیا سیاہا صبحِ شبِ ولادت |
| پیارے ربیع الاول تیری جھلک کے صدقے | چمکا دیا نصیبا صبحِ شبِ ولادت (1) |

## چرته چې غوږ کېږدو نو هم ستاسو داستان وي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څومره څانګړے شان دے، اوس د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت چرچو کولو زمونږ سعادت نصيب کيږي، د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو نه پۀ زرګونو کاله مخکښې د اِنساني عالَم د ټولو نه عظيمو هستيانو يعنې انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام پۀ ټوله دُنيا کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړلو ذِکر کولو- تاسو يـې شان ته وګورئ چې د بُخت نَصر پۀ شان ظالِم بادشاه، دے هم غير مسلمه، د الله پاک نبي حضرت دانيال عَلَيۡهِ السَّلَام د هغۀ پۀ دربار کښې ودرېږي او ګويا د ميلاد مبارک محفل يـې جوړ کړے وو او پۀ صدو مخکښې يـې د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو ذِکر کولو-

---

1…ذوقِ نعت، صفحه:9693 ملتقطاً-

رُسُل اِنہیں کا تو مُژدَہ سُنانے آئے ہیں | اِنہیں کے آنے کی خوشیاں منانے آئے ہیں (1)

یہ کس شہنشہِ والا کی آمد آمد ہے | یہ کون سے شہِ بالا کی آمد آمد ہے (2)

بولو! مرحبا...!! بولو! مرحبا...!!

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ څومره ښکلې خبره کړې ده:

عرش پہ تازہ چھیڑ چھاڑ، فرش میں طُرفہ دُھوم دھام

کان جدھر لگایئے! تیری ہی داستان ہے (3)

مفهوم: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! که عرشِ برین [یعنې د ټولو لوړ اسماني عرش] وي او که فرشِ زمین [یعنې د زمکې فرش] هر طرف کوم طرف ته چې هم توجه کوې هم ستاسو ذِکر کیږي- که د اسمان فرښتے وي او که د زمکې مخلوقات ټول ستاسو فضیلتونه او خوبیانې بیانوي-

## د نُور والا آقا

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زمونږ آقا او مولیٰ، رسولِ خُدا، اَحمدِ مُجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور دے، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ځان سره نُور راوړو ، د هغوئي دُنیا ته د تشریف راوړلو په برکت په ټوله دُنیا کښې رڼا خوره شوه- په 6 سیپاره، د سورۀ مائِده، په آیت: 15 کښې اِرشاد دے:

---

1…سامانِ بخشش، صفحه:137۔

2…سامانِ بخشش، صفحه:135۔

3…حدائقِ بخشش، صفحه:178۔

| | |
|---|---|
| قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ (پارہ:6، سورۂ مائدہ:15) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه تاسو ته د الله له طرفه یو نُور راغلو او یو روښانه کتاب- |

پۀ دي آیت مبارک کښې د نُور لفظ نه څۀ مُراد دے، پۀ دې باره کښې ◈ امام محمد بن جریر طبري◈ امام قرطبي◈ اِمامِ بَغوِي ◈ اِمامِ جَلَالُ الدِّین سَیُوطي ◈ اِمام فخرالدین رَازي ◈ علامه احمد صَاوي ◈ علام مُلا علي قاري ◈ علامه محمود آلُوسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم او ډیرو مُفسرینِ کرامو فرمائیلي دي: د دې نُور نه مُراد د نُور والا آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُراد دے- (1)

کسی جا ہے طٰہٰ و یٰسٓ کہیں پر | لقب ہے سِراجاً مُّنِیْرا تمہارا
کیا تم کو نورِ مُجَسَّم خُدا نے | زمیں پر نہیں پڑتا سایہ تمہارا(2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مولیٰ د چا نُور پۀ مونږ راخور شو او مونږ یې پټ کړو؟

پۀ روایت کښې دي: الله پاک چې کله زمونږ د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور پیدا کړو نو (د هُغه نُور نه یې د باقي انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام د نُورونو پیدا کولو نه پس) هغۀ ته حُکم اوکړو چې د ټولو انبیائے کرامو [عَلَیهِمُ السَّلام] نُورونو ته وګوره، بیا الله پاک د ټولو انبیائے

1…تفسیر طبری، پارہ:15، سورۂ مائدۃ، زیرِ آیت:15، جلد:4، صفحہ:504۔

2…قبالۂ بخشش، صفحہ:30۔

كرامو [عَلَيهِمُ السَّلام] نُوررونه زمونږ د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ نُور باندې پټ كړل- هغوئي عرض اوكړو: مولىٰ! د چا نُور پهٔ مونږه راخور شو او مونږ يې پټ كړو؟ الله پاک وفرمائيل: هٰذَا نُوْرُ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الله يعني دا د مُحَمَّد بن عبد الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور دے- (1)

ذرّہ ذرّہ جگمگایا ہر طرف آیا نکھار | گویا ساری ہی فضا کو نُور میں نہلایا ہے
نُور والا آیا ہے ہاں! نُور لے کر آیا ہے | سارے عالَم میں یہ دیکھو نُور کیسا چھایا ہے (2)

## نُور راخور شو، رڼا رڼا شوه

د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نيكه بابا جان حضرت عبد المُطلب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل زهٔ پهٔ حطيمِ كعبه (يعني د كعبې د ديوال سره بالكل جُخت د كعبې شريفې پهٔ يوه حصه) كښې اودهٔ ووم، ما يو خوب وليدو، پهٔ كوم چې زهٔ ډير ويرېدم- نو زهٔ د خوبونو د تعبير بيانونكي خوا له لاړم، زهٔ د قوم سردار ووم، د خوب تعبير بيانوونكي زه پېژندم، هغهٔ چې كله زما مخ وليدو نو وه يې وئيل: اے سرداره! څهٔ خبره ده؟ نن زهٔ ستاسو رنګ بدل وينم؟ ما ووئيل: د شپې ما خوب وليدو: ګويا يوه ونه ده، هغه پهٔ اوچتېدو اوچتېدو اسمان ته ورسېدله، د هغې ښاخونه پهٔ مشرق او مغرب كښې خوارهٔ شول، هٰغه ونه ډيره نُوراني وه، دومره نُوراني چې د نمر نه 70 چنده ډيره روښانه وه- بيا ما وليدل چې عرب او عجم ټولو هغې ته سر ټيټ كړو، د هغې نُور هر هر ساعت زياتېدو-

1…شرح زرقانی علی المواہب اللدنیہ، المقصد الاول، فی تشریف اللہ…الخ، جلد:1، صفحہ:78۔

2…وسائلِ بخشش، صفحہ:460و 461 بتقدم۔

فرمائي: ما خوب بیانولو او د تعبیر بیانوونکي رنګ بدلېدو رابدلېدو- هغهٔ د ټول خوب اورېدو نه پس ووئیل: اے سرداره! که تاسو واقعي دا خوب لیدلے دے نو واورئ! ستاسو پهٔ اولاد کښې به یوه هستي وي، کوم چې به د مشرق او د مغرب مالِک وي او خلق به د هغوئي پهٔ دِین پسې روانېږي- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، د هغوئي دُنیا ته د تشریف راوړلو نه مخکښې چې کومې اِشارې کیږي، هغه هم دا دي چې دا راتلونکے ذِیشان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دُنیا کښې د نوې رڼا خورولو د پاره تشریف راوړي-

## سَیِّده آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نُور ولیدو

یو روایت به تاسو ځو کرته اورېدلے وي: د حضرت اِبنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دے، د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږه مور جانه حضرت آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: د ولادت پهٔ وخت زما نه یو نُور ووتو پهٔ کوم چې د زمکې مشرق او مغرب روښانه شول- (2) پهٔ یو روایت کښې دي: ما پهٔ هٰغه نُور د شام محلونه ولیدل- (3)

مسلمانو! صبحِ بہاراں مبارک وہ برساتے انوار سرکار آئے
مبارک تجھے آمِنہ ہو مبارک ترے گھر شہنشاہِ ابرار آئے
جہاں میں وہ سکہ بٹھانے کو دیں کا مٹانے وہ باطِل کے آثار آئے

1…الوفاء باحوال دار المصطفٰے، الباب الحادی عشر فی ذکر منام…الخ، صفحه:70۔

2…مواہب اللدنیة، المقصد الاول…الخ، آیات ولادته صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:1، صفحه:67۔

3…مواہب اللدنیة، المقصد الاول…الخ، آیات ولادته صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:1، صفحه:66۔

## ځومره ښکلے شان دے د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور کمالي شان ته وګورئ--!! زۀ پۀ يو مثال سره پۀ خبره باندې د پوهه کولو کوشش کووم، فرض کړئ! که مونږ پۀ خپله کمره کښې دننه 50 زره غټې غټې لائټونه ولګوو، د دومره رڼا کېدو نه پس به هم مونږ ته د ديوال نه بل اړخ ته څۀ پۀ نظر راځي--؟ نۀ به راځي- معلومه شوه چې رڼا تړوس ځيز کراس کولے نشي- پۀ کمره کښې دننه که هر ځومره رڼا هم وي، د ديوال نه بل اړخ ته تيارۀ نشي ختمولے-

د سوچ خبره ده چې د سيده آمنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا کور مبارک پۀ مکه مکرمه کښې، د کعبې شريفې سره نزدې وو او شام د مکے مکرمې نه تقريباً 2 زره کلوميټره لرې دے، پۀ مينځ کښې اوچتې اوچتې ودانۍ هم دي، لوئي لوئي غرونه هم دي، دا ځومره کمالي نُور وو، روښانه شوے پۀ مکه مکرمه کښې دے خو د دې د نُور مبارک رڼا د ودانو نه هم ووځي، غرونه هم شلوي او ځي او د شام پورې رسېږي او سيده آمنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د دې نُور مبارک پۀ برکت سره د شام محلونه ويني- معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور هغه نُور دے کوم چې تيارې داسې رڼا کوي او سترګې داسې روښانه کوي چې نظر د زرګونو کلوميټرو پورې رسېږي-

## د نُور خيرات تقسيموونکے

د الله پاک اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور بلکې قاسِمِ نُور (يعنې نُور تقسيموونکے) دے- صحابیِ رسول حضرت کعب بن زُبير رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: اِنَّ الرَّسُوۡلَ لَنُوۡرٌ

يُسْتَضَاُبِهٖ بے شکه رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې نُور دے د کوم نه چې رڼا حاصلولے شي۔ (1)

حضرت اُسید بن ابو اَیَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د نُور والا آقا، رسولِ خُدا، اَحمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو ځل زما پهٔ مخ او سینه باندې خپل نُوراني لاس مبارک راښکلو، د دې برکت دا ظاهر شو چې زهٔ به کله هم یو تیارهٔ کور ته داخلېدم نو هُغه کور به روښانه کېدلو۔ (2)

| | |
|---|---|
| چمک تجھ سے پاتے ہیں سب پانے والے | مرا دِل بھی چمکا دے چمکانے والے |
| برستا نہیں دیکھ کر ابرِ رحمت | بدوں پر بھی برسا دے برسانے والے (3) |

## نُور والا آیا ہے نُور لے کر آیا ہے
## (نُور والا راغلے دے، نُور یې راوړے دے)

د حضرت سالِم بن عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے: (د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم او د تابعینو رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهِم د زمانې خبره ده چې) یو ځل دوه کسان ناست وو پهٔ خپل مینځ کښې یې خبرې کولې، پهٔ هغوئي کښې یو ووئیل: ما بیګاه شپه پهٔ خوب کښې د ټولو انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام زیارت اوکړو۔ بَل ووئیل: نو بیا ووایهٔ! چې تاسو څهٔ ولیدل؟ بیا خوب لیدونکي خپل خوب بیانول شروع کړو، وه یې وئیل: ما وه لیدل چې د هر نبي عَلَیْهِ السَّلَام سره 4، 4 ډیوې وې ◈ یوه ډیوه د هغوئي مخې ته ◈ یوه د هغوئي شا ته ◈ یوه د هغوئي ښي اړخ ته

1…سیرۃ ابن ہشام، قصیدۃ کعب زھیر فی مدح…الخ، جلد:2، جز:4، صفحه:101۔

2…کنز العمال، کتاب الفضائل، فضائل الصحابه، جز:13، جلد:7، صفحه:123، حدیث:36819 ملتقطًا۔

3…حدائقِ بخشش، صفحه:158۔

◈ يوه د هغوئي ګڅ اړخ ته- بيا د هر نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره د هغوئي يو صحابي هم وو، د هغوئي سره هم يوه يوه ډيوه وه-

بيا ما وليدل:چي (د يوې عظيمې مرتبې والا) نبي ودرېدو، د هغوئي د ودرېدو سره ټوله زمکه روښانه شوه، د هغوئي د مبارک سَر د هر وېښتهٔ سره يوه ډيوه وه او د هغوئي صحابي کوم چې د هغوئي سره وو، د هغوئي سره يوه يوه نهٔ بلکې 4، 4 ډيوې وې- دا منظر چې مې وليدو نو ما پوښتنه اوکړه: مَنْ هٰذَا يعنې دا دومره د اوچتې مرتبې والا نبي د کوم پهٔ ودرېدو چې ټوله زمکه روښانه شوه، دا څوک دے؟ نو جواب راغلو: مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الله يعنې دا مُحَمَّد بن عبد الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے- [1]

نُور والا آيا ہے، ہاں! نُور لے کر آيا ہے | سارے عالَم ميں يہ ديکھو نُور کيسا چھايا ہے [2]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! کله چې دا دواړه کسان ناست وو او پهٔ خپل مينځ کښې يـې خبرې کولې، يعنې يو خوب بيانولو او بل اورېدو، هغه وخت عظيم تابعي بزرګ حضرت کعبُ الاَحبار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه (کوم چې د تورات شريف لوئې ماهِر عالِم وو)، (د هغوئي) غوږونو ته د هغوئي د دې خبرو اواز لاړو، هغوئي وفرمائيل: دا تاسو څهٔ خبرې کوئ (يعنې دا چې تهٔ څهٔ بيانوې دا خبره تا چرته لوستلې، اورېدلې ده)؟ خوب بيانونکي ووئيل: نا--! دا څهٔ لوستلے شوې خبره نهٔ ده بلکې دا خو ما د شپې خوب ليدلے وو، هغه بيانووم- دا يـې چې واورېدل نو حضرت کعبُ الاَحبَار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ووئيل: وَالَّذِیْ بَعَثَ مُحَمَّدًا بِالْحَقِّ اِنَّهَا فِیْ کِتَابِ اللهِ کَمَا رَاَیْتَ يعنې د

---

1…نوادر الاصول، الاصل السابع الستون فی عقاب من غش العرب، جلد:1، صفحه:231۔

2…وسائلِ بخشش، صفحه:460۔

کائنات پۀ هٔغه رَبّ مې دې قَسم وي! کوم چې مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے نبي جوړ کړے او رالیږلے دے! تا خو دا خوب لیدلے دے خو ما بالکل هم دا خبره د الله پاک پۀ نازل کړے شوي مخکښېني اسماني کتاب کښې لوستلې ده۔ [1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم --!! د دې نه معلومه شوه چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور هم دے، صاحب د نُور هم دے او د حضرت کعبُ الاَحبار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وضاحت مطابق پۀ مخکښېنو اسماني کتابونو کښې هم دا لیکلي شوي وو چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٔغه مبارک نُور دے د کوم پۀ ذریعه چې ټوله زمکه پۀ نُور روښانه شوې ده۔

| | |
|---|---|
| چار جانِب روشنی ہے سب سماں ہے نُور نور | حق نے پیدا آج اپنے پیارے کو فرمایا ہے |
| آگے پیچھے، دائیں بائیں نور ہے چاروں طرف | آ گیا ہے نُور والا، نُور والا آیا ہے [2] |

## نُور تقسیموونکے نبي

پۀ یو بل ځائے کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| کِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَیْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ (پاره:13، سورۀ ابراهیم:1) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: دا یو کتاب دے کوم چې مونږه ستا طرف ته نازل کړے دے د پاره د دې چې تۀ خلق د تیارو نه رڼا طرف ته را اوباسې۔ |

[1] ... نوادر الاصول، الاصل السابع و الستون، جلد:1، صفحه:231۔

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه:460 ملتقطًا۔

یعنې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دُنیا پهٔ تیارو کښې ډوبه شوې ده ◈ د عقیدو تیارې دي ◈ د نظریو تیارې دي ◈ د بدو اخلاقو او د خرابو عادتونو تیارې دي ◈ غرض داسې تیارهٔ خوره شوه چې اِنسان کوم چې اَشرُفُ المَخلوقات دے، دا خپل ځان هم نهٔ پېژني ◈ کله نمر ته سجدې کوي ◈ کله ونې او کاڼي خپل خُدایان مني، اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! مونږ د قرآنِ کریم نُور پهٔ تا باندې نازل کړو، تاسو خلقو ته پهٔ قرآنِ کریم بیانولو، پهٔ قرآنِ کریم ښودلو، د قرآنِ کریم پهٔ نُوراني تعلیماتو عام کولو خلق د تیارو نه د نُور طرف ته راووباسئ!

معلومه شوه چې ◈ قرآن نُور دے ◈ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم چې پخپله هم نُور دے، د قرآنِ پاک نُور پهٔ دُنیا کښې د تقسیمولو د پاره تشریف راوړے دے ◈ د دې نُور پهٔ ذریعه د زړهٔ او د دماغو پهٔ روښانه کولو ◈ د اخلاقو او کردار د ښه کولو ◈ د خاورې د اِنسانانو د نُوراني جوړولو د پاره یې تشریف راوړے دے۔

د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ وررور جان مولانا حَسَن رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي:

کُھلِیں اسلام کی آنکھیں، ہوا سارا جہاں روشن
عرب کے چاند صدقے! کیا ہی کہنا تیری طلعت کا[1]

وضاحت: اے خوږه محبوبه! اے د عربو سپوږمۍ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زهٔ ستاسو نه قربان شم، تاسو د نبوت اِعلان څهٔ وفرمائیلو چې د اِسلام پهٔ برکت ټوله دُنیا روښانه شوه۔

[1]... ذوقِ نعت، صفحه:37۔

# د دُنیا روښانه کولو د پاره راغلو

پهٔ یو بل ځائے کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَ يُزَكِّيْهِمْ وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَ الْحِكْمَةَ ۚ وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ (پارہ:4، سورۂ آلِ عمران:164) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه الله پهٔ اِیمان والؤ باندې لوئي اِحسان اوکړو چې کله یې پهٔ هغوئي کښې یو رسول مبعُوث کړلو کوم چې د هُم هغوئي نه دے۔ هغه د هغوئي پهٔ مخکښې د الله آیتونه تِلاوت کوي او هغوئي پاک کوي او هغوئي ته د کتاب او حِکمت تعلیم ورکوي اګر چې دا خلق د دې نه مخکښې یقیناً پهٔ ښکاره ګمراهی کښې پراته وو۔ |

دا آیت مبارک به مونږه مخکښې هم څو ځل اورېدلے وي، زهٔ چې کوم طرف ته ستاسو پام راګرځول غواړم، هغه د دې آیت مبارک اخري حصه ده، فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ (پارہ:4، سورۂ آلِ عمران:164) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اګر چې دا خلق د دې نه مخکښې یقیناً پهٔ ښکاره ګمراهی کښې پراتهٔ وو۔ |

یعني د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو نه مخکښې ټوله دُنیا او پهٔ خاص توګه د عربو والا ◈ د عقیدو ◈ اعمالو ◈ اخلاقو او کردار وغیره پهٔ

هر قِسمه ګمراهو او تیارو کښې ورک وو۔ (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! هُغه قام کوم چې هر قِسمه د خرابو او ګناهونو ښکار وو، پۀ ټوله دُنیا کښې هر خوا ته تیارې راخورې وې ◈ شِرک عام وو ◈ د تَوحِید د ټولو نه لوئې مرکز یعنې کعبه شریفه هم د شِرک پۀ ګند باندې ګنده کړے شوې وه ◈ ژوندي اِنسانان به حلالولے کېدل او کاڼو ته به یې نذرانه کول ◈ څناور هم د خپل اولاد حفاظت کوي خو د هُغه وخت اِنسان دومره د سخت زړۀ والا وو چې هم خپلې لوڼه به یې ژوندۍ ښخولې ◈ بد کارې عامه وه ◈ شراب، جوارې، غلا غُلطې، لوټ مار ډېر وو ◈ پۀ معمولې معمولې خبرو به چې کله جګړه شروع شوه نو د کلونو پورې به جنګ جارې وو ◈ پۀ یوه معمولې شان خبره باندې به پۀ سوؤنو بلکې پۀ زرګونو خلق وژلے کېدل ◈ پۀ څینو معاشرو کښې دا رَسم هم وو چې بادشاه به مړ کېدو نو د هغۀ مړے به یې پۀ لوئې غار کښې اېښودو، ورسره به یې خوندور خوراکونه اېښودل او ډېر ژوندي غلامان او وینزې به یې هم پۀ غار کښې پرېښودلې او د غار دروازې به یې بندولې۔

تاسو اندازه ولګوئ چې د هُغه ژوندو غلامانو چې به کله ساه بندېدله، د لوږې تندې نه به لړزېدل نو پۀ هغوئې به څۀ تېرېدل خو افسوس چې دُنیا د ظُلم او د سِتم تیارو ته غورځېدلې وه، اِحساسات مړۀ شوي وو۔

د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان ته وګورئ! هغوئې داسې قوم ته خپلې نُوراني اداګانې وښودلې، پۀ خپلو ښو اخلاقو باندې یې مئین کړل او د هغوئې نه یې عالِمان هم جوړ کړل

---

1…تفسیر درمنثور، پارہ:4، سورۂ آل عمران، زیرِ آیت:164، جلد:2، صفحه:367ماخوذاً۔

◈ باطِن يـې ورله ښۀ کړو او روښانه يـې هم کړو! ◈ هغوئي ته يـې کتاب هم وښودلو ◈ حِکمت يـې ورته هم وښودلو ◈ داسې د هر طرف نه پۀ خرابئ کښې راګېر قوم يـې د قيامته پورې د راتلونکو اِمام او پيشوا جوړ کړو-

ډاکټر اِقبال وئيلي دي:

وہ دانائے سُبُل، ختمِ رُسُل، مولائے کُل جس نے
غُبارِ راہ کو بخشا فروغِ وادئ سینا (1)

وضاحت: دانائے سُبُل: يعني هادي، د لارو نه خبر- خَتمِ رُسُل: يعني د ټولو اخري نبي، مولائے کُل: د ټولو آقا، د ټولو مولا کوم چې د لارې ګرد رَشکِ طُور (يعني پۀ کوم باندې چې کوهِ طُور هم فخر اوکړي داسې) جوړ کړو-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ميلاد مناؤ کړئ! ښه يـې مناؤ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا د روښانه کولو د پاره تشريف راوړلو، د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِيمان نُور او د قرآنِ پاک نُور زمونږ د ګنهګارانو نصيب شو، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته پۀ تشريف راوړلو ښه ډېرې خوشحالئ اوکړو، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائش چرچې اوکړو ◈ کورونه ښائسته کړو

---

1…کلیات اقبال، باب جبریل، صفحه:363-

◈ محلې ښائسته کړو ◈ کوڅې ښائسته کړو ◈ دفترونه ښائسته کړو ◈ پۀ ګاډو باندې ◈ پۀ بسونو او موټر سائيکلو بلکې پۀ سائيکلو باندې هم شنې جنډې ولګوو ◈ پۀ هر کور کښې محفلونه جوړ کړو ◈ د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ ياد کښې پۀ غريبانو باندې خوراکونه اوکړو ◈ د درودِ پاک محفلونه جوړ کړو ◈ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سيرت ولولو او دا پۀ خپل ژوند کښې د نافذ کولو کوششونه شروع کړو-

## حضرت عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شعرونو پۀ شکل کښې مِيلاد ولوستو

ياد ساتئ! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ميلاد کول، د ميلاد پۀ نوم باندې خوشحالي کول، پۀ دې موقع باندې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذِکر محفلونه جوړول څۀ نوې خبره نۀ ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانانو د شروع نه د خپلې زمانې د تقاضو مطابق دا نيک کار کړے دے- صحابۀ کرامو عَلَیہِمُ الرِّضْوَان هم د ميلاد د ذِکر محفلونه جوړ کړي دي- د برکت حاصلولو د پاره صِرف يوه واقعه اورو- **پۀ روايتونو کښې دي**: رسولِ انور، شاهِ بحر او بر صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غزوۀ تبوک نه واپس تشريف راوړلو، هٰغه وخت حضرت عباس بن عبد المُطلب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ميلاد پۀ ذِکر باندې د خپلو ليکلے شوو يو څو شعرونو لوستلو اجازت وغوښتو، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته اجازت عطا کړو نو هغوئي د خپلې د مِيلاد د قصيدې شعرونه ولوستل، پۀ هغې کښې يو څو شعرونه دا دي:

قَبْلَهَا طِبْتَ فِي الظِّلَالِ وَفِي | مُسْتَوْدَعٍ حَيْثُ يَخْصِفُ الْوَرَقُ

تاسو د ولادت نه مخکښې پۀ سورو کښې وئ يعنې د جَنَّت دننه، د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ شا کښې

ثُمَّ هَبَطْتَ الْبِلَادَ لَابَشَرٌ | أَنْتَ وَلَا مُضْغَةٌ وَلَا عَلَقُ

بيا د آدم [عَلَيْهِ السَّلَام] پۀ شا کښې زمکې ته راکوز شوئ، بيا نۀ تاسو پۀ انساني شکل کښې وئ، نۀ مُضغَه نۀ عَلَقَه (دا د حمل پۀ وړومبنو ورځو کښې د ماشوم د 2 حالاتو نومونه دي)

بَلْ نُطْفَةٌ تَرْكَبُ السَّفِينَ وَقَدْ | أَلْجَمَ نَسْرًا وَأَهْلَهُ الْغَرَقُ

تاسو د نوح پۀ شا کښې پۀ کشتۍ کښې سوارۀ شوئ، کله چې طوفان د کافرانو دروغژن خدائے او د هغه عبادت کوونکي ډوب کړل-

تُنْقَلُ مِنْ صَالِبٍ إِلَى رَحِمٍ | إِذَا مَضَى عَالَمٌ بَدَا طَبَقُ

تاسو د پاکو پشتونو [يعني شاګانو] نه د رحمونو طرف ته منتقل کېدل، د يوې طبقې نه پس بَله طبقه ظاهره شوه

وَأَنْتَ لَمَّا وُلِدْتَ أَشْرَقَتِ | الْأَرْضُ وَضَاءَتْ بِنُورِكَ الْأُفُقُ

ستاسو د ولادت پۀ وخت زمکه روښانه شوه، اسمان ستاسو پۀ نُور وپرقېدو

فَنَحْنُ فِي ذَلِكَ الضِّيَاءِ وَفِي | النُّورِ وَسُبُلِ الرَّشَادِ نَخْتَرِقُ( 1 )

مونږ د دې نُور پۀ رڼا کښې د هدايت پۀ لارو باندې روان يو

---

[1] … معجم کبير، جلد:3، صفحه:96، حديث:4057۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** غور اوکړئ چې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم تشريف فرما دے، صحابهٔ کرام عَلَیهِمُ الرِّضْوَان هم موجود دي، پهٔ دې نُوراني محفل کښې حضرت عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د نُور والا آقا مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مِيلاد ولوستو- هم دې ته د ميلاد محفل وئيلے شي- پته ولګيده چې مِيلاد کول څهٔ نوې خبره نهٔ ده بلکې د شروع نه د مسلمانانو طريقه ده-

## د ميلاد د محفلونو برکتونه

امام جلال الدِّين سَيُوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: پهٔ کوم کور، جومات يا محلّه کښې چې ميلاد شريف کولے شي ◈ فرښتے هغه کور، جومات او محلّه پهٔ ګېره کښې واخلي ◈ او د فرښتو سرداران يعنې حضرت جبريل، حضرت ميکائيل، حضرت اسرافيل او حضرت عزرائيل عَلَیهِمُ السَّلام د ميلاد شريف کوونکو د پاره د رحمت او رِضوان دُعاګانې کوي- پهٔ کوم کور کښې چې ميلاد شريف کولے شي ◈ الله پاک هغه کور د قحط ◈ وبائي مرضونو ◈ وور لګېدو ◈ ډوبېدو او د داسې ډېر قسمه افتونو نه بچ ساتي ◈ دغه کور کښې اوسېدونکي د بُغض او حَسَد نه ◈ د بد نظر نه ◈ او د غلا غُلطئ وغېره د خطرې نه بچ کولے شي ◈ او د دغه کور اوسېدونکے کوم کَس چې کله وفات شي نو پهٔ هغهٔ باندې نَکِيرَين (يعنې قبر کښې د پوښتنو کوونکو فرښتو) پوښتنې اساني کړے شي- [1] ◈ حضرت خواجه جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: د ميلاد پهٔ محفل شريف کښې د برخې اخستو او د

---

[1] ... نعمة الكبرىٰ لابن حجر، صفحه: 7 بتقدم و تأخر-

دې محفل عزت او احترام کولو سره ایمان مضبوطېږي [1] ◈ حضرت سَري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: څوک چې میلاد ته د تللو اِراده اوکړي، هغه پهٔ اصل کښې د جَنَّت باغونو ته د تللو اِراده کوي، ځکه چې د میلاد محفل صرف او صرف هم د رسول [صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] د محبت پهٔ وجه کولے شي او د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مَنۡ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الۡجَنَّةِ څوک چې زما سره محبت کوي، هغه به پهٔ جَنَّت کښې زما سره وي- [2]

| | | | |
|---|---|---|---|
| آئے تاجدارِ رسالت | مرحبا! صد مرحبا! | آئے جہاں میں جانِ رحمت | مرحبا! صد مرحبا! |
| صاحبِ عظمت و شان و شوکت | مرحبا! صد مرحبا! | سب سے بڑی اللہ کی نعمت | مرحبا! صد مرحبا! |
| آمنہ چمکی تیری قسمت | مرحبا! صد مرحبا! | گود میں آئی ربّ کی رحمت | مرحبا! صد مرحبا! |

## شېطان مِیلاد نهٔ کوي

علامه سهيلي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه لیکلي دي: شېطان 4 ځل پهٔ چغو وژړل: (1): کله چې ملعون شو (یعنې د الله پاک د دربار نه ورټلے شو) (2): کله چې زمکې ته راکوز شو (3): د سُوۡرَةِ فَاتِحَة د نازلېدو پهٔ وخت او (4): د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت باسعادت پهٔ وخت- [3] د حضرت عِکرمه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روایت دے: چې د رَحۡمَةٌ لِّلۡعَالَمِیۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وِلادت چې وشو نو شېطان ووئیل: د شپې یو ماشوم پیدا شوے کوم چې به زمونږ کار خراب کړي- د هغه چمچو ووئیل: تهٔ اوس لاړ شه او هغهٔ ته د نقصان رسولو سره د هغه پهٔ کار کښې خنډ

---

[1] …نعمة الکبریٰ لابن حجر، صفحه:6-

[2] …نعمة الکبریٰ لابن حجر، صفحه:10-

[3] …الروض الانف، فصل فی المولد، جلد:1، صفحه:308-

[يعني رکاوټ] پيدا کړه! پۀ دې باندې شېطان د رسولِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا له تلل غوښتل نو الله پاک حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام راوليږلو، هغۀ، هغه له دومره پۀ زوره ديکه ورکړه چې پۀ مقامِ عدن کښې راپرېوتو-[1] عدن: د مکے مکرمې نه د يوې مياشتې پۀ مزل باندې[2] د بحر الهِند پۀ غاړه باندې د يمن يو ښار دے-[3]

هر ملک ہے شادماں، خوش آج ہر اک حور ہے
ہاں! مگر شیطان مع رفقا بڑا رنجور ہے[4]

## پۀ هر کور کښې د ميلاد محفلونه جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږ مسلمانان يو، عاشقانِ رسول يو، مونږ د خپل آقا او مولىٰ، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبىٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنيا ته پۀ راتګ باندې خوشحاله يو- ځکه ښه پۀ جوش او جذبې سره د دې خوشحالۍ اظهار اوکړئ! هر کور ښکلے کړئ! کوڅې هم ښکلې کړئ! ښه خوشحالي اوکړئ! اَلْحَمْدُلِلّٰه! عام طور د عاشقانِ رسول تقريباً پۀ هر جومات کښې د ميلاد محفل کيږي، د دې سره سره کوشش اوکړئ چې که څوک مالداره وي او که غريب هر عاشقِ رسول دې پۀ خپل کور کښې هم د ميلاد محفل اوکړئ- چا له چې الله پاک وَس ورکړے دے هغوئي له پکار دي چې پۀ لويه سطح باندې د محفل پاک

---

[1] ... سبل الهدى، جماع ابواب مولده...الخ، الباب العاشر، جلد:1، صفحه:350-

[2] ... المسالك والممالك، ديار العرب، صفحه:28-

[3] ... معجم البلدان، باب العين والدال وما يليها، جلد:4، صفحه:88-

[4] ... وسائلِ بخشش، صفحه:483-

انتظام اوکړي او څوک چې غريبان دي، هغوئي دې هم د خپل وَس مطابق پۀ کور کښې د ميلاد محفل جوړ کړي، که وغواړي نو وړوکے شان محفل دې اوکړي خو د ميلاد محفل دې خامخا اوکړي- هيڅ ګران کار نۀ دے، پۀ خپل کور کښې چې چرته هم اساني وي د پردې کولو سره ځائے جوړ کړئ! د کوځې د محلې که زيات نۀ وي نو 8، 10 اِسلامي وروڼو له دعوت ورکړئ! د محلې د جومات د عاشقِ رسول امام صاحب پۀ خِدمت کښې عرض اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هغوئي به هم د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر د پاره منع نۀ کوي، لږ شان تلاوت اوکړئ، يو يا دوه نعتونه ووايئ! امام صاحب دې 15، 20 منټه بيان اوکړي، که چرې د امام صاحِب يا بل عاشقِ رسول مبلغ ترکيب نۀ جوړيږي نو بيا هم ګرانه نۀ ده، د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله ده: **صبح بهاران**، دغه شان دمکتبة المدينه‌نورې رسالې دي مثلاً "**سياه فام غلام**"، "**بهيانک اُونٹ**"، "**بڈها پجاری**"، "**نُور والا چهره**"، "**نُور کا کهلونا**"، "**عاشقِ ميلاد بادشاه**" د دې نه يوه رساله يا پۀ **شانِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پر 12 بيانات** وړوکے کتاب حاصل کړئ! که غواړئ نو د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه يې مفت ډاؤن لوډ کړئ! پخپله يې د نورو پۀ مخکښې ولولئ، پۀ اخِره کښې د خپل وَس مطابق څۀ خواږۀ وغيره تقسيم کړئ! که چرې څۀ خواږۀ هم نۀ وي نو بيا هم څۀ خبره نۀ ده، چې څۀ وي، هغه ټيک دي، د ميلاد د پاره لنګر يا خواږۀ وغيره هم ضروري نۀ دي، د الله پاک پۀ دربار کښې پيسه او تابيا نۀ بلکې د زړۀ اِخلاص قبليږي- ځکه چې الله پاک کوم توفيق درکړے وي، پۀ محفل کښې د برخه اخستونکو پۀ خِدمت کښې يې وړاندې کړئ! د ميلاد محفل به اوشي، د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ټول کال پۀ کور کښې برکت وي-

وہ لوگ خُدا شاہِد قسمت کے سکندر ہیں | جو سرورِ عالَم کا میلاد مناتے ہیں

اللّٰه پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي- اٰمِیۡن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## پۀ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: يوه ورځ د اللّٰه پاک پۀ لار کښې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پۀ زړۀ کښې د اللّٰه او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت زياتولو او د دِين او د دُنيا د خېرونو راټولولو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پۀ 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ډېر برکتونه به مو نصيب شي- پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **يوه ورځ د اللّٰه پاک پۀ لار کښې** هم دے-

**د دې وخت عظيم او روحاني شخصيت** اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه مونږ له دا مَدَني مقصد راکړے دے چې **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي-"** اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول د دې مَدَني مقصد پوره کولو د پاره کلي والو علاقو، د ښار اړخونو او د ښار داسې علاقې چرته چې ديني کار کمزورے وي هلته ځي او د نېکۍ دعوت عام کوي ◈ پۀ هره يوه ورځ خصوصاً د جُمعې يا اتور پۀ ورځ اِسلامي ورونه دغه علاقو ته ځي ◈ هلته پۀ جومات کښې نفل اعتکاف کولے شي ◈ د نېکۍ دعوت عام کولے شي ◈ تاسو هم تشريف راوړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ◈ د عِلمِ دِين زده کولو موقع به درته مېلاؤېږي ◈ د نېکۍ د دعوت ورکولو ثواب به درنصيب کيږي ◈ د اللّٰه پاک پۀ لاره کښې به د وتو سعادت

درنصیب کیږي ◈ د حدیثِ پاک خُلاصه ده: پۀ کوم قدم باندې چې د الله پاک پۀ لار کښې دوړه پرېوځي، هغې ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې کیږي [1] ◈ کوم کَس چې د الله پاک د رضا د پاره د خپلو مسلمانانو ورونړو خوا له د ښار اړخونو ته لاړ شي، پۀ حدیثِ پاک کښې د هغۀ د پاره د جَنَّت زیرے راغلے دے۔ [2] راځئ چې د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے واورو۔

## مونږ خو بَس د دعوتِ اِسلامي شو

یو اِسلامي ورور وائي چې د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د عامو ځلمو پۀ شان پۀ غفلت کښې ژوند تېرولو، سندرې سازونه اورېدل زما د خوښې کارونه وو د کومو د پاره چې ما یو رېډیو هم اخستے وو، زما بخت څۀ داسې رابېدار شو چې یوه ورځ زمونږ علاقې ته یو څو اِسلامي ورونړه یوه ورځ د الله پاک پۀ لار کښې د تېرولو د پاره راغلل، پۀ هغوئي کښې یو اِسلامي ورور ما ته پۀ دې دیني کار کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، څکه زۀ هم د یو څو دوستانو سره د هغوئي سره شامل شوم، د واپس راتللو پۀ وخت یو اِسلامي ورور مونږ ته د هفته وارې اجتماع دعوت راکړو نو مونږ عرض اوکړو: که یاد وو راته نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! ضرور به شرکت کوو۔

بهر حال مونږ پۀ اجتماع کښې شرکت اوکړو، هلته هم د هُغه اِسلامي ورور سره ملاقات وشو چا چې مونږ ته د اجتماع دعوت راکړے وو، هغه دومره پۀ ښو اخلاقو سره

---

[1]... مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حدیث:16356 خلاصةً۔

[2]... معجم اوسط، جلد:1، صفحه:472، حدیث:1743۔

مېلاؤ شو چې بس مونږ خو د دعوتِ اِسلامي شو- زما خو چې لکه د ژوند انداز بدل شو، د نـمونځونو پابندي مې نصيب شوه، د سندرو ځائے نعت شريف واخستو، مخ مې په ږيره ښائسته کړو او عمامه مې پۀ سر کړه او داسې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته راغلم-

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خدا دینی ماحول | ہے فَیضانِ غوث ورضا دینی ماحول |
| تُو داڑھی بڑھا لے عِمامہ سجا لے | نہیں ہے یہ ہرگز بُرا دینی ماحول |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نـمونځونو د وختونو (Prayer Times) د اېپ تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل اېپلي کېشن د نـمونځونو د وختونو *(Prayer Times)* پۀ نوم جاري کړے دے ◈ د دې اېپلي کېشن پۀ ذريعه پۀ ټوله دنيا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلومېدے شي ◈ د جُمعې پۀ وخت د موبائل آټو سائلنټ کولو آپشن هم موجود دے ◈ د دې نه علاوه د قرآنِ پاک د عربی متن او د ترجمې او تفسير سره د لوستلو او اورېدو سهولت موجود دے ◈ اذکار (روحاني علاج) هم ورکړے شوي دي ◈ د کاؤنټر تسبيح پۀ ذريعه تاسو خپل روزانه اوراد لوستلے شئ ◈ د دې اېپلي کېشن پۀ ذريعه تاسو رېډيو مَدَني چېنل اورېدے شئ ◈ د نـمونځ اذکار هم د تجويد سره شامل کړے شوي دي ◈ د عيسوي او اِسلامي کلېنډر (*Calendar*) سهولت هم موجود دے- ◈ د دې نه علاوه تاسو د دې اېپلي کېشن ډېش بورډ (*Dashboard*) پۀ 2 کلر تهيم کښې هم استعمالولے شئ- ◈ د نيوز فيډ فيچر پۀ ذريعه، د قرآنِ کريم تفسير، د حديثِ پاک تشريح، د علمائے کرامو نصيحتونه،

عِلمي ويډيوز، معلوماتي پوسټونه، او دِيني کتابونه وغيره لوستلے کېدے شي ◈ نور دا چې د قضاء نـمونځونو د ادا کولو د پاره د کاؤنټر چاټ سهولت هم موجود دے- هم نن دا ايپلي کېشن ډاؤن لوډ کړئ، د دې سهولتونو نه پخپله هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانونه

◈ **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د ربيع الاول شريف د وړومبۍ شپې نه د دولسمې شپې پورې به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه کراچۍ نه نبغ پۀ نبغه مَدَني مذاکره کوي، عاشقانِ رسول (څوک چې راتللے شي هغوئي) دې عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه کراچۍ ته تشريف راوړي او پۀ دې مدني مذاکرو کښې دې شرکت اوکړي، که غواړي نو پۀ خپلو علاقو کښې دې پۀ شريکه توګه د دې مدني مذاکرو د کتو انتظام اوکړي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې **ديني رسالې** لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د ښو خبرو کولو فائدې** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا

رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ◈ مکـتبة الـمدينه پهٔ ربيع الاول کښې د حضور جان عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت باسعادت د خوشحالو مناوهلو او د دې نه حاصليدونکې دنياوي او اخروي فائدو باندې مشتمله رساله صبح بهاراں او ربيع الاول کی خوبياں شائع کړې ده رساله صبح بهاراں پهٔ 28 روپے او رساله ربيع الاول کی خوبياں پهٔ22 روپے د مکـتبة الـمدينه د يو شاخ نه حاصله کړئ.

پهٔ ربيع الاول شريف کښې به د يو سې پهٔ سطح 12 روځنې د فيضان ميلاد اجتماعات کيږي د خپل متعلقه يو سې نګران اسلامي ورونړو نه د مقام او وخت معلومات حاصل کړئ، پخپله هم پهٔ دې اجتماعاتو کښې شرکت اوکړئ او نورو له هم دعوت ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ 14اګست باندې د کولو والا کارونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله پاک پهٔ قران کريم کښې فرمائي :

| | |
|---|---|
| وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِي الْاَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ ؕ<br>(پاره:8، سورهٔ اعراف:10) | ترجمه کنزالعرفان:او بيشکه مونږه تاسو له پهٔ زمکه کښې ځائے د اوسيدو درکړو او ستاسو دپاره مو د ژوند د تيرولو اسباب جوړ کړل - |

اَلْحَمْدُلله! الله پاک مونږ ته پهٔ اسلامي احکاماتوباندې پهٔ ازادۍ سره د عمل کولو دپاره دا پاک او ازاد ملک راکړو،د ژوند ضروريات يې راکړل ،ډيرنعمتونه يې راکړل خو افسوس! مونږه هغسې شکر ادا نهٔ کړے شوځنګه چې د ادا کولو حق وو او هغه شهيدان مو هير کړل

چا چي د دې ملک د ازادۍ پۀ خاطر د خپلو سرونو نذرانې پيش کړي دې. د يوې اندازې مطابق چي کله پاکستان جوړ شو هغه وخت 30لاکهه مسلمانان شهيدان شوي وو-(1)

سبا 14اګست د ازادۍ ورځ ده ختمونه اوکړئ او د خپلو شهيدانو،وفات شوو دپاره د ايصال ثواب اهتمام اوکړئ◈ که کولے شئ نو د ازادۍ پۀ شکرانه کښې د نفلونو اهتمام هم اوکړئ ◈پۀ فضولو کارونو کښې د پيسو خرچ کولو پۀ ځائے د خپل ملک د ښائسته شين جوړولو دپاره د بوټې لګولو اهتمام اوکړی-

راځئ ! نن مونږ دا عزم کوو چي پۀ دې جشن ازادۍ به د جشن ازادۍ پۀ نوم سندرې غګولو◈ ميوزک چلولو◈ګډيدلو◈چيغې او سورې وهلو◈ پټاخې خلاصولو ◈باجې وهلو◈ پۀ کوڅو او سړکونو باندي د نخرو کولو ◈ پۀ سړکونو باندي د ون ويلنګ (One Welling) کولو سره د مرګ د لوبو کولو پۀ ځائے به ملک پاکستان د هر قسم نقصان نه بچ کولو او د دې پۀ تعمير او ترقۍ کښې به خپل کردار ادا کوو-

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق رانصيب کړي،الله پاک د زمونږه ګران وطن شاد او اباد لرې.راځئ دعا کوو!

| | |
|---|---|
| یاخُدا پاک وطن کی تُو حفاظت فرما | فضل کر اس پہ سدا سایۂ رحمت فرما |
| اس کو تُو قلعۂ اسلام بنا دے یارَبّ | مرے پیارے وَطَنِ پاک پہ رحمت فرما |
| بچہ بچہ ہو نمازی مرے پاکستاں کا | اور عطا جذبۂ پابندیٔ سُنّت فرما |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1…تخلیقِ پاکستان میں علماءِ اہلسُنّت کا کردار، صفحہ:150 بتصرف۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د ربيع الاول شريف مياشت شروع کېدونکې ده، راځئ چي د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د طرف نه د جشنِ ولادت پۀ باره کښې راغلے يو ليک واورو:

## د جشن وِلادت پۀ باره کښې د عطّارؔ ليک

د سګِ مدينه محمد الياس عطّارؔ قادري عُفِيَ عَنهُ له خوا د ټولو عاشقانِ رسول اِسلامي ورونړو پۀ خدمت کښې:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه الحمدُ لله رَبِّ الْعٰلمينَ علٰى كلِّ حال۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! رَبِّ الْعٰلمين! خوشحاله شئ! ډېره زر د ربيعُ الاوّل مياشت راتلونکې ده، پۀ ښه ښه نيتونو سره د جشن ولادت نمانځلو د پاره تيار شئ۔

تم بھی کرکے اُن کا چرچا اپنے دِل چمکاؤ | اونچے میں اونچا نبی کا جھنڈا گھر گھر میں لہراؤ

(1): د ربيع الاول شريف پۀ ورومبۍ شپه باندې پۀ دې الفاظو سره 3 ځل پۀ جوماتونو کښې اعلان اوکړئ: د ټولو اِسلامي ورونړو او اِسلامي خوئېندو دې مبارک شي د ربيعُ الاوَّل شريف مياشت وليدلے شوه۔

ربیعُ الاوّل اُمیدوں کی دنیا ساتھ لے آیا | دعاؤں کی قبولیت کو ہاتھوں ہاتھ لے آیا

(2): مهرباني اوکړئ! د رَبيعُ الاوّل شريف پۀ برکت سره دې اِسلامي ورونړه هم د نن نه د يو موټي ږېرې پرېښودو نيت اوکړي۔ (د سرې ږېره خريَل يا د يو موټي نه کمول حرام او فوراً د دې نه د توبه کولو سره د دې ګناه نه د هميشه د پاره پرېښودل ضروري دي)

جُھک گیا کعبہ سبھی بُت،منہ کے بل اَوندھے گرے | دَبدبہ آمد کا تھا، اَھلاً وَّ سَھلاً مرحبا

(3): پۀ سنتو او نېکو باندې د استقامت موندلو (يعني چې همېشه پرې عمل کيږي د دې) بهترينه فارمولا دا ده چې ټولو اِسلامي ورونړو نن کوم کوم عمل اوکړو؟ پۀ دې باره کښې هره ورځ د **خپلو اعمالو جاج اخستو سره د نېک اعمال رسالې** ډکې کړئ او د هرې انګريزۍ مياشت پۀ وړومبي تاريخ د خپل نزدې ذمه دار سره جمع کړئ- د تقویٰ نايابه خزانه به پۀ لاس درشي او د عشقِ رسول ډک جامونه به مو نصيب شي-

بدلیاں رَحمت کی چھائیں، بُوندیاں رَحمت کی آئیں
اب مُرادیں دل کی پائیں، آمد شاہِ عرب ہے

(4): د دعوتِ اِسلامي د ذمه دارانو سره سره ټول اِسلامي ورونړه نيت اوکړئ چې پۀ هفته واره مدني مذاکره کښې به شرکت (د سوال او جواب شروع کېدو نه کم نۀ کم 1 ګېنټه 12 منټه) او پۀ هفته واره د سنتو نه پۀ ډکه اجتماع کښې شپه تېروئ، دا نيت هم اوکړئ چې هره مياشت به 3 ورځې، پۀ هرو 12 مياشتو کښې 1 مياشت او پۀ ژوند کښې کم نۀ کم يو ځل د 12 مياشتو د سنتو زده کولو او ښودلو پۀ مدني قافله کښې سفر کوئ- ټول عاشقانِ رسول پۀ شمول د نګران او ذمه داران دې پۀ رَبيعُ الاوَّل شريف کښې پۀ دربار رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د ايصالِ ثواب پۀ نيت سره کم نۀ کم د 3 ورځو د پاره د سنتو زده کولو او ښودلو پۀ مدني قافله کښې سفر اوکړي او هره ورځ **کور درس** هم ورکوئ يا يې اورئ-

میں مبلّغ بنوں سنتوں کا ،خوب چرچا کروں سنتوں کا
یا خدا!درس دوں سنتوں کا ،ہو کرم!بہر خاکِ مدینہ

(5): پۀ خپل جومات، کور، دُکان، کارخانه وغېره باندې 12 ګنې کم نۀ کم يوه مدني جنډه د رَبيعُ الاوَّل شريف د مياشت شروع کېدو د شپې نه د 12 رَبيعُ الاوَّل پورې ولګوئ- پۀ بسونو، وېګنو، ټرکونو، غټو ګاډو، ټېکسيانو، رکشو، ګاډو وغېره باندې مدني جنډه ولګوئ- پۀ خپل سائيکل، سکوټر او موټر باندې يـې هم ولګوئ- هر طرف ته به د مدني جنډو سپرلے پۀ نظر راځي- عام طور پۀ ټرکونو شاته د ساه لرونکو ځناورو غټ غټ تصويرونه او فضول شعرونه ليکلے شوي وي- که کېدے شي نو پۀ خپلو ګاډو باندې دا وليکئ: **زما د دعوتِ اِسلامي سره مينه ده-**

**دُعائے عطار!** يا ربِّ مصطفٰے! څوک چې پۀ خپلو سکوټرو باندې (صرف مخې طرف ته او) پۀ موټرو، ټېکسيانو، بسونو، ټرکونو، ټرالو، د اوبو پۀ ټېنکو، وېګنو، رکشو، سوزکو وغېره باندې مخې يا وروستو دوارو اړخونو ته **زما د دعوتِ اِسلامي سره مينه ده** وليکي يا يـې پۀ [بَل چا ] وليکي يا د دې سټېکر ولګوي يا [يـې د بَل پۀ] ګاډي ولګوي- د هغۀ ګاډے د حادثې نه بچ کړې او هغه بے حسابه اوبخښې، څوک چې يو ګاډے دې د پاره تيار کړي د هغه پۀ حق کښې هم دا دعا قبوله کړې- اٰمِيْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**ضروري احتياط:** که پۀ جنډه باندې شين ګنبد، نقشِ نعلِ پاک يا بَل څۀ ليکل وي نو د دې خبرې خيال ساتئ چې نۀ هغه وشلېږي او نۀ پۀ زمکه پرېوځي- که ادب نۀ کيږي نو هسې جنډې مۀ اوچتوئ، د 12 رَبيعُ الاوَّل شريف ورځ چې ختمه شي فوراً ټولې جنډې او د لائټنګ سامان کوز کړئ- خاص طور مدني مراکز فيضان مدينه او مساجدِ دعوتِ اِسلامي او جامعة الـمدينه او مدرسة الـمدينه (ګرلز، بوائز) دوئي دې هم پۀ وخت

د دې ترتيب جوړ کړي-

نبی کا جھنڈا لے کر نکلو دنیا پر چھا جاؤ | نبی کا جھنڈا امن کا جھنڈا گھر گھر میں لہراؤ

(6): پهٔ خپل کور باندې د 12 لَړونو والا يا کم نهٔ کم د 12 بلبونو نه، د دې سره سره پهٔ خپله محله کښې هم د 12 ورځو پورې او پهٔ خپل جومات باندې هلته هم د معمول مطابق لائټنګ اوکړئ- چرته چې د جومات د چندې نه د 12 ورځو پورې د لائټنګ معمول نهٔ وي نو د دې کار د پاره د بېلې چندې کولو سره د 12 ورځو پورې لائټنګ کېدے شي- ټوله علاقه پهٔ مدني جنډو او پهٔ قِسمه قِسم بلبونو د ناوې پهٔ شان ښکلې کړئ- که ممکن وي نو پهٔ جومات، د کور پهٔ چت او چوک وغېره باندې پهٔ لار تېرېدونکو او سورلو ته د تکليف ورکولو نه بغېر د عامو خلقو د حقونو خوړلو نه بغېر پهٔ فضا کښې زوړند 12 ميټره يا د موقعې پهٔ مناسبت سره غټې غټې جنډې ولګوئ- د سړک پهٔ مينځ کښې جنډې مهٔ لګوئ ځکه چې د دې سره د ټرېفک نظام متاثره کيږي، د جنډې لګولو د پاره فټ پاټ هم مهٔ راکښنئ، خبردار! پهٔ کوڅه وغېره کښې چرته هم داسې سينګار مهٔ کوئ د کوم سره چې خلقو ته لاره تنګه شي او د هغوئي حق وخوړلے شي او زړهٔ ازاري يـې وشي- (ياد ساتئ چې د دې ښکلاکانو د پاره هم د بجلۍ غلا حرام کار دے، ځکه دې لړ کښې د بجلۍ ورکوونکو ادارو سره رابطه اوکړئ او څهٔ جائز ترتيب جوړ کړئ)

مشرق و مغرب میں اِک اِک بامِ کعبہ پر بھی ایک | نصب پرچم ہو گیا، اَھلاً وَّسَھلاً مرحبا

(7): هر اِسلامي ورور دې د خپل وَس مطابق د مکتبة المدينه ديني رسالې او د مدني ګلونو مختلف پمفلټس د ميلاد پهٔ جلوسونو کښې تقسيم کړي- دغه شان ټول کال پهٔ خپل

دکان وغیره د رسالو د تقسیمولو انتظام اوکړئ او د نېکئ دعوت ورکړئ- د وادۀ پۀ بَلنو [یعنې دعوتونو] او د ایصالِ ثواب پۀ اجتماعاتو کښې او د وفات شوو د ایصالِ ثواب د پاره هم د رسالو د تقسیمولو ترتیب جوړ کړئ او نورو له د دې ترغیب ورکړئ- او ټول د هفته وارې رسالې د لوستلو یا د اورېدلو سعادت حاصل کړئ، او هر کال د نورو 12 میاشتو د پاره د **ماهنامه فیضانِ مدینه** بُکنګ اوکړئ-

چار سُو رحمتوں کی ہوائیں چلیں، ہو گئی جس سے ساری فضا دل نشیں
مسکراؤ سبھی آ گئے ہیں نبی، غم کے مارو تمہاری خوشی کے لئے

**(8):** 12 رسالې **صبحِ بہاراں** د مکتبة الـمدینه نه واخلئ او تقسیمې یـې کړئ- خاص طور د هغه تنظیمونو مشرانو ته یـې ورسوئ کوم چې پۀ رَبیعُ الاوَّل کښې لائټنګ کوي یا د نعتونو محفل یا د میلاد د جلوس انتظام کوي- پۀ رَبیعُ الاوَّل شریف کښې د چا سُنّي عالِم یا امام مسجد، مؤذِّن یا د جومات د خادِم سره څۀ نا څۀ مالي مرسته اوکړئ او ډېره ښه به وي! که هره میاشت دا سعادت حاصل کړئ- د وَدونو پۀ موقعو باندې د **وادۀ د کارډ** سره د مکتبة الـمدینه دیني رساله هم یو ځائے ولګوئ- د اختر د کارډونو پۀ ځائے د دیني کتابونو او رسالو ورکولو رواج جوړ کړئ د پاره د دې چې کومې پیسې ولګي چې د هغې سره د دین فائده هم وشي- د غم ښادئ پۀ دستورو کښې د نزدې مکتبة الـمدینه نه د ترتیب جوړولو سره سټال ولګوئ او مېلمنو له د وَس مطابق اِسلامي کتابونه او رسالې مفت ورکړئ-

ولادتِ شہِ دیں ہر خوشی کی باعث ہے | ہزار عید سے بھاری ہے بارہویں تاریخ

(9): پۀ ښارونو، کلو وغيره کښې دې هر *UC* نګران د 12 ورځو پورې هره ورځ پۀ بېلو بېلو جوماتونو کښې عظيمُ الشان د سنتو ډک اجتماعات اوکړي- د شخصياتو پۀ کورونو، د عاشقانِ رسول پۀ دکانونو، مارکيټونو، کارخانو، تعليمي ادارو وغيره کښې هم دا اجتماعات اوکړې۔

لب پر نعتِ رسولِ اکرم ہاتھوں میں پرچم | دیوانہ سرکار کا کتنا پیارا لگتا ہے

(10): د 11 رَبيعُ الاوَّل پۀ مازيګر ګنې پۀ 12 شپه د ښه ښه نيت کولو سره غسل اوکړئ- که کېدے شي نو د اخترونو د اختر د تعظيم پۀ نيت سره **جامې، عمامه، سربند، ټوپۍ پۀ سر کول پکار وي نو سپين څادر، پۀ پرده کښې د پردې کولو د پاره څادر، مسواک، د جيب رومال، پېزار، تسبيح، د عطرو شيشه، د لاس ګړۍ، قلم، قفلِ مدينه پيډ وغيره** د خپل استعمال هر څيز که کېدے شي نو نوے واخلئ- (د ميلاد شريف د مجلس او د نورو خېرونو مجلسونو د پاره غسل کول مستحب عمل دے- وګورئ: نماز کے احکام، صفحه: 115)

آئی نئی حکومت سکہ نیا چلے گا | عالَم نے رنگ بدلا صبحِ شبِ وِلادت

(11): 12 شپه د ميلاد پۀ اجتماع کښې د تېرولو سره د صبح صادق پۀ وخت پۀ خپلو لاسونو کښې د مدني جنډو راخستو سره د درود او سلام وئيلو سره پۀ نمژنو سترګو **صبح بهاران [يعني د سپرلي سحر]** ته هر کلے ووايئ- د سحر د نـمونځ نه پس د سلام کولو وروستو د اختر مو مبارک شه وئيلو سره يو بَل سره پۀ خوشحالئ ملاقات اوکړئ او ټوله ورځ د اختر اُمبارکي ورکوئ او ميلاو پرئ-

عیدِ میلادُ النّبی تو عید کی بھی عید ہے | بالیقیں ہے عیدِعیداں عیدِ میلادُ النّبی

(12): د الله پاک خوږ اخري نبي، مُحَمَّدٌ رَّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د کُل شریف پهٔ ورځ باندې روژه نیوله او د خپل ولادت ورځ به یې نمانځله، تاسو هم د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ یاد کښې د 12 رَبیعُ الاوّل شریف روژه ونیسئ او مدني جنډې راواخلئ او د میلاد پهٔ جلوس کښې شرکت اوکړئ، څومره چې ممکن وي نو پهٔ اوداسه کښې اوسئ، پهٔ خُله باندې درود او سلام او نعتونه وایئ، نظر ښکته ساتئ او د عزت پهٔ طریقه ځئ، د درز غوبل کولو سره چا له د تنقید کولو موقع مهٔ ورکوئ- (د دعوتِ اِسلامي ذمه واران دې د میلاد پهٔ جلوس کښې هٔغه نعرې وهي یا پهٔ ګاډو کښې دې هٔغه کلامونه لګوي کوم چې د مدني مرکز د طرف نه جاري شوي وي)

ربیعِ پاک تجھ پر اہلِ سنّت کیوں نہ قرباں ہوں | کہ تیری بارہویں تاریخ وہ جانِ قمر آیا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې

# لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت پهٔ مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مَدَني آقا صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. (1) راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي. (2) راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پهٔ هغهٔ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. (3) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

---

[1]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 151، خلاصةً۔

[2]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 65۔

3... قَوْلُ البَدِيْع، باب ثانی، صفحه: 277۔

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃُ اللہِ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي. [1] راځئ چې پهٔ شریکه یې ووائیو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رضی اللہُ عنہ تر مینځه کښینولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہُ عنہم حیران شو چې دا څوک اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم وفرمائیل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې یې لوَلي. [2] راځئ چې مونږ یې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي. [3] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شریکه ووائیو.

---

1...اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

2...قَوْلُ البَدِیْع، باب اَوّل، صفحه:125۔

3...الترغیب والترہیب، کِتَابُ الذِّکر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔

### ﴾1﴿ د يو زر [1000] ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې مَدَني آقا صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږ يـې هُم پۀ شريکه ووائيو.

### ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر يـې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفےٰ صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغۀ چې شبِ قدر حاصل کړو-[2] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پۀ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

2...تاريخ ابنِ عساكر، 155/19، حديث:4415